ابادي
پنځلس ورځنۍ
ABAADI ONLINE FORTNIGHTLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت پنځلس ورځنۍ
ګڼه: ۱۲ | مسلسل نمبر: ۱۵۰
چهارشنبه، ربیع الأول ۱۲، ۱۴۴۸هـ. ق کال

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: شریر او ورانکاري عناصر دې د نورو په لمسون له بې ځایه تخریب څخه لاس واخلي



۲ صفحه

## د سوداګرۍ او پانګونې او د صنعت او معدن خونو ترمنځ د ګډ سهامي شرکت جوړېدو تفاهمنامه لاسلیک شوه



۲مه صفحه

## اولویت‌های اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی با تمویل‌کنندگان شریک ساخته شد



۵مه صفحه



# سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په ۲۷مه نېټه د سوداګرۍ او پانګونې او د صنعت او معدن خونو ترمنځ د ګډ سهامي شرکت د جوړېدو تفاهمنامه لاسلیک شوه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په دې اړه جوړې شوې غونډې ته په خپلې وینا کې د دغه سهامي شرکت جوړېدل په هېواد کې د لویو اقتصادي او زېربنایي پروژو د عملي کېدو او د پانګونې د پراختیا په برخه کې مهم ګام وباله او ویې ویل چې دا د هېواد د اقتصادي راتلونکي له پاره د یوه منظم او عملي مسیر د رامنځته کولو هڅه ده. اقتصادي پرمختګ او پانګونه د هر هېواد د پرمختګ له پاره لار هواروي. په دې برخه کې د نورو ترڅنګ سهامي شرکتونه هم مهم رول لري او هغه دا چې د دې ډول شرکتونو له لارې کولی شو چې د یو شمیر پانګوالو پانګې سره را یوځای او بنسټیزې او سترې پروژې پرمټ یې تمویل کړو. سهامي شرکتونه یوازې د سوداګرۍ له پاره نه دي بلکې په مجموع کې دغه ډول شرکتونه د اقتصادي ودې له پاره ژورې او دوامدارې ګټې لري. په سهامي شرکتونو کې د دې امکان برابرېږي چې د یوه کس پر ځای څو کسان خپلې پانګې سره یوځای کړي. یو پانګوال په یوازې ځان نه شي کولی د خپلې پانګې په وسیله سترې صنعتي او خدماتي پروژې پیل کړي، که چیرې د سهامي شرکت له لارې څو پانګوال خپلې پانګې سره یوځای کړي، نو له یوه لوري د پانګې د تمرکز او د لویو پروژو د پلي کېدو له پاره لار هوارېږي، له بل لوري په دې ډول شرکتونو کې مسوولیت محدود وي او هر ونډوال د خپلې پانګې په اندازه مسوول وي، نو دا بیا د پانګوالو د پانګونې د خطر کچه راکموي. دا چاره د دې لامل ګرځي چې نور پانګوال هم پانګونې ته زړه ښه کړي. د سهامي شرکتونو په جوړېدو د کارموندنې فرصتونه زیاتیږي. هغه داسې چې لوی سهامي شرکت نه یوازې مستقیم کارکوونکي ګوماري، بلکې د اړوندو سوداګریزو او خدماتي چارو له پاره هم په غیرمستقیم ډول ډېر شمیر خلکو ته د کار زمینه برابروي. د دې ډول شرکتونو په جوړېدو سره د ټکنالوژیکو وسایلو کارولو او نوښت ته هم لاره برابرېږي، ځکه چې دوی کولی شي د څېړنې او پراختیا له پاره کافي بودیجه ولري. همدا شرکتونه کولی شي د ملي تولید او ناخالصو کورنیو تولیداتو په زیاتوالي کې مهم رول لوبوي. د همدې شرکتونو له لارې د صادراتو په کچه کې زیاتوالی راځي او دا بیا خپله د اقتصادي ثبات سره مرسته کوي. اسلامي امارت د سهامي شرکتونو اقتصادي ګټو ته په کتو د دغه ډول شرکتونو جوړول د اقتصادي ودې له پاره اړین بللي دي. همدا لامل دی چې د سهامي شرکتونو جوړېدو ته یې مخه کړې ده. د دې ډول شرکتونو په جوړېدو سره به له یوه لوري خصوصي سکتور وهڅول شي چې په دې ډول شرکتونو کې خپلې پانګې سره راغونډې او د سترو پروژو پلي کېدو ته لار هواره کړي او له بل لوري به د همدې شرکتونو پر مټ خپل اقتصاد پیاوړی او هېوادوالو ته به د سوکاله او ارام ژوند زمینه برابره شي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: شریر او ورانکاري عناصر دې د نورو په لمسون له بې ځایه تخریب څخه لاس واخلي



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په ۲۸مه نېټه په دفاع وزارت کې له انګریزي ښکېلاک څخه د هېواد د ازادۍ اخیستو د ۱۰۷مې کلیزې په مناسبت جوړه شوې غونډه کې ګډون او وینا وکړه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند افغانان ویاړمن او مجاهد ولس ته د دې ازادۍ مبارکي ووېله، د خپلواکۍ د بېرته اخیستو په لاره کې یې د شهیدانو روحونو ته دعا وکړه او ویې ویل، چې خپلواک ژوند د افغانانو د ارزښتونو په سر کې قرار لري او هېڅکله هم د اسارت او غلامۍ ژوند نه قبلوي. محترم ملا صاحب د خپلواکۍ ساتلو ارزښت ته په کتو وویل: «د خپلواکۍ ورځو د نمانځنې څخه باید زمونږ موخه یوازې د هغه وخت د سربښندو او اتلانو یادونه نه وي، بلکې تر ټولو مهم پیغام مو باید دا هم وي چې ترلاسه شوې خپلواکي وساتو او په بشپړه معنا د هر ډول سیاسي، اقتصادي او نظامي استعمار د بیا تکرار مخه ونیسو. دا کار هغه وخت شونی دی چې ټول افغانان د لوړو دیني او ملي ارزښتونو د ساتنې لپاره یو موټی شو، د نورو په اشارو وطن وران نه کړو، د عصر د غوښتنو مطابق عصري زده کړې وکړو، د ټکنالوژۍ او خپلو عصري وسایلو څښتنان شو.» محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې په هېواد کې د شل کلن امریکایي اشغال په ختمېدو سره یوځل بیا دا ملت د خپل برخلیک په ټاکلو او ټولو چارو کې خپلواک شو. هغه زیاته کړه: «اوس مو نه ملت اسیر دی، نه مو سیاسي او اقتصادي برخلیک بل څوک ټاکي، نه مو ارضي تمامیت ته خطر متوجه دی، نه مو مال او ناموس ته په بده سترګه کتل کېږي او نه د بل چا په اشارو پرېکړې کوو. الله الحمد د خپلواکۍ برکت دی چې خپل لوی او اساسي ارزښتونه مو په بشپړه توګه خوندي دي.» د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال پر ټولو ورانکارو او شریرو عناصرو هم غږ وکړ، چې د نورو په لمسون له بې ځایه تخریب څخه لاس واخلي، کورنیو جګړو ته لمن ونه وهي او افغانان ارام ژوند ته پرېږدي. هغه د افغانستان اسلامي امارت له ټولو امنیتي مسوولینو مننه وکړه، چې د هېواد د امنیت ساتلو لپاره شپه او ورځ هڅه کوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند همداراز په ټولو هغو ځواکونو هم غږ وکړ چې د افغانستان لپاره بد نیتونه لري. محترم ملا صاحب وویل، دوی باید د افغانستان له تاریخ زده کړه وکړي، د لاسوهنې او تقابل پر ځای د اصولو په چوکاټ کې هر اړخیز سیاسي او اقتصادي تعامل ته لار هواره کړي، چې دا کار نه یوازې زمونږ؛ بلکې د سیمې او نړۍ هیوادونو د امنیت او اقتصادي ثبات لپاره هم مهم ګڼل کېږي. هغه وویل چې د افغانستان اسلامي امارت د سیمه ییز او نړیوال فعال مشارکت لپاره اماده دی او په دې برخه کې د همکارۍ لپاره واضح تعریفونه لري. نړۍ دې هم د رسمي سیاسي تعامل جرأت وکړي او له دې فرصت څخه دې ګټه واخلي. محترم ملا صاحب د هېواد د اقتصادي وضعیت ته په اشارې سره وویل، چې په هېواد کې لویې اقتصادي پروژې رواني دي او په دې برخه کې ډېرې لاسته راوړنې لري. هغه زیاته کړه چې اسلامي امارت په مسلسله توګه هڅه کوي چې هېوادوالو ته د کار زمینه برابره کړي. هغه په دې برخه کې له اقتصادي پروژو څخه د هېوادوالو ملاتړ مهم وباله. د یادونې وړ ده چې د افغانستان د خپلواکۍ اخیستو د ۱۰۷مې کلیزې د لمانځنې په مناسبت د جوړو شوو مراسمو په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ازادۍ پر ځلي د ګلونو ګېډۍ هم کېښوده.

## د سوداګرۍ او پانګونې او د صنعت او معدن خونو ترمنځ د ګډ سهامي شرکت جوړېدو تفاهمنامه لاسلیک شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په ۲۷مه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د سوداګرۍ او پانګونې او د صنعت او معدن خونو ترمنځ د ګډ سهامي شرکت جوړېدو تفاهمنامه لاسلیک شوه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په دې اړه جوړې شوې غونډې ته په خپلې وینا کې د دغه سهامي شرکت جوړېدل په هېواد کې د لویو اقتصادي او زېربنایي پروژو د عملي کېدو او د پانګونې د پراختیا په برخه کې مهم وبلل او ویې ویل، چې دا د هېواد د اقتصادي راتلونکي لپاره د یوه منظم او عملي مسیر د رامنځته کولو هڅه ده. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، چې د هېواد د اقتصادي ودې په برخه کې د افغانستان اسلامي امارت ترڅنګ خصوصي سکتور هم مهم رول لري او کولای شي د تولید په زیاتوالي، د کارموندنې په رامنځته کولو، د صادراتو په پراختیا او د لویو پروژو په تمویل

کې اســاسي ونډه واخلي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د دغه شرکت پر مټ به د ګڼو سوداګرو، صنعتکارانو او پانګوالو پانګې په یوه منظم، قانوني او شفاف چوکاټ کې سره راټولې او د هغو له مجموعي ظرفیت څخه به د لویو پروژو د تمویل لپاره استفاده وشي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت په هېواد کې د پانګوالو او صنعتکارانو لپاره



خونــدي چاپېریال رامنځته کــړی او په همدې موخه یې د قانوني، اداري او اقتصادي اســانتیاوو په برابرولو کې لازم اقدامات کړي، د پانګونې پــر وړاندې یې خنډونه له منځه وړي، د اداري پروســو په ســاده کولــو کار روان دی او د پانګوالو لپاره په مختلفو سکتورونو کې د پانګونې د جلب او جذب په برخه کې ګڼې اســانتیاوې رامنځته شوې دي. د ریاســت الــوزراء اقتصادي مرســتیال له ټولو ســوداګرو، صنعتکارانــو او پانګوالــو وغوښــتل چې د افغانســتان په اقتصــادي ابادۍ کې ونــډه واخلي، خپل ظرفیتونه سره یو ځــای او د هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره په ګډه پانګونه وکړي. محترم ملا صاحب د امارتي ادارو له مســوولینو هم وغوښــتل چې د خصوصي ســکتور د پیاوړتیا لپــاره پوره همــکاري وکړي. د غونــډې په پای کې د ســوداګرۍ او پانګونې او د صنعت او معدن خونو ترمنځ د ګډ سهامي شرکت د جوړېدو تفاهمنامه لاسلیک شوه، چې په مختلفو سکتورونو کې به د زېربنایي پروژو د تطبیق په برخه کې د پانګونې نوي فرصتونه برابر کړي.

## اولویت‌های اداره تعلیمات تخنیکی و مسلکی با تمویل‌کنندگان شریک ساخته شد

بــه رهبری ریاســت روابط عامــه معاونیــت اقتصادی ریاســت‌الوزراء ، به تاریخ ۲۰ اسد ۱۴۰۵ هجری شمسی، اولین نشست شریک‌ساختن اولویت‌های ادارات سکتوری افغانستان را با نمایندگان سازمان ملل متحد، مؤسسات بین‌المللــی، تمویل‌کنندگان و شرکای انکشــافی در قصر مرمرین برگزار گردید. در این نشســت، اولویت‌های اداره تعلیمات تخنیکی و مســلکی امارت اسلامی افغانستان با تمویل‌کنندگان شریک ساخته شد.



این اولویت‌ها در بخش‌های زیربناها و تجهیزات، برنامه‌های آموزشــی، توسعه و ارتقای ظرفیت مشــخص شده‌اند که بر اســاس نیازهای واقعی افغان‌ها تعیین گردیده تا کمک‌ها و همکاری‌های انکشافی آینده تا حد امکان در چارچوب همین اولویت‌ها تنظیم و هماهنگ شوند.

شریــک ســاختن اولویت‌های ادارات ســکتوری امارت اسلامی با تمویل‌کنندگان، اولویت‌ها را با منابع، کمک‌ها را با نیازها و توســعه را با نتایــج واقعی منظم و هماهنگ خواهد ساخت.

نماینــدگان نهادهــای تمویل‌کننــده، شریک‌ســاختن اولویت‌های ادارات ســکتوری امارت اسلامی را بسیار مهم دانســته و گفتند که با این کار خواهند توانست فعالیت‌های آینده خود را به شکل بهتر تنظیم و تطبیق کنند.

قابل یادآوری اســت که در آینده، اولویت‌های ۱۳ اداره ســکتوری امارت اسلامی نیز از سوی ریاست روابط عامه معاونیــت اقتصادی ریاســت‌الوزراء به‌گونــه تدریجی با تمویل‌کنندگان شریک ساخته خواهد شد.

## د معیار او کیفیت اداري ۳۶ معیارونه او ۳۰ د ازمایښت طریقې د تایید وړ وبلل شوې

د اقتصادي کمېسیون تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په ۲۶مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د معیار او کیفیت اداري له لوري یوشمېر معیارونه او د ازمایښت طریقې د بحث لپاره وړاندې شوې. له بحث وروسته ۳۶ معیارونه او ۳۰ د ازمایښت طریقې د تایید وړ وبلل شوې. دغه معیارونه د خوراکي توکو، درملو، ساختماني موادو، کرنیزو محصولاتو، نفتي توکو، چاپېریال ساتنې، کان کیندنې، مخابراتو او الیکټریک اړوند دي.

په غونډه کې د کابل، ننګرهار او کندهار ولایتونو په صنعتي پارکونو کې د یوشمېر فابریکو د بریښنا د ستونزو د حل په اړه هم بحث وشو.

## د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې غونډه ترسره شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د ۱۴۰۵ کال د اسد میاشتې په ۲۰مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د فاریاب ولایت په مرکز میمنې ښار کې د پښتني بانک پر اړوند ځمکه د خصوصي سکټور له لوري د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. له بحث وروسته، د یادې طرحې د هراړخیزې ارزونې لپاره ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د ټولو اړخونو په پام کې نیولو سره یې څېړنه ترسره او راپور یې د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

په دې غونډه کې همداراز د بدخشان ولایت په مرکز فیض اباد ښار کې د سوداګریز، ورزشي، تفریحي او سیاحتي مجتمع د جوړولو په طرحه هم بحث وشو. پرېکړه وشوه چې وړاندې کوونکی شرکت دې طرحه د محلي اداري له لوري له نهايي کېدو وروسته د پانګونې د بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي



# رهنمود سرمایه گذاری

بخش ۳

## فرصت‌های سرمایه‌گذاری در سکتور انرژی

افغانستان با داشتن موقعیت جغرافیایی استراتیژیک، منابع طبیعی فراوان و ظرفیت‌های بالقوه سرمایه‌گذاری، در بخش‌های گوناگون فرصت‌های مناسب و خوبی برای سرمایه‌گذاری دارد. یکی از این سکتورها، سکتور انرژی است. در عصر امروزی، انرژی از عوامل حیاتی و بسیار مهم برای توسعه پایدار و تأمین رفاه اقتصادی و اجتماعی به شمار می‌رود. دسترسی به انرژی ارزان، پایدار و قابل اعتماد، تأثیر قابل توجه بر رشد و توسعه اقتصادی، رفاه اجتماعی و محیط زیست دارد.

در حال حاضر، کمتر از ۴۰ فیصد هموطنان به انرژی نسبتاً پایدار دسترسی دارند. این در حالیست که افغانستان در سطح منطقه از منابع فراوان تولید انرژی نیز برخوردار است. بازسازی و ایجاد زیربناهای انرژی برق از عوامل اساسی رشد اقتصادی و از اولویت‌های مهم امارت اسلامی به شمار می‌رود. فرصت‌های عمده در این بخش عبارت‌اند از:

۱ - سرمایه‌گذاری در بخش توسعه شبکه برق در سراسر کشور، متناسب با نیازهای محلی؛

۲ - سرمایه‌گذاری در بخش تولید و توسعه انرژی آبی، آفتابی، بادی، بایوماس و حرارتی؛

۳ - سرمایه‌گذاری در بخش ترویج و توسعه تکنالوژی‌های جدید در سکتور انرژی؛

۴ - و سرمایه‌گذاری در بخش بازسازی و توسعه زیربناها و شبکه انرژی.

تمامی سرمایه‌گذاران می‌توانند طرح‌های خود را برای سرمایه‌گذاری در بخش‌های یادشده، به کمیته سرمایه‌گذاری بین‌الوزارتی ،زیر چتر معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء، ارائه کنند.





# د سوداګرۍ او صنعت پر پراختيا
# د لابراتوارونو اغيزې

قيس احمد

## سريزه

په افغانستان کې په بېلابېلو سکتورونو کې د کيفيت د کنټرول او معياري خدمتونو د پياوړتيا لپاره هڅې روانې دي. له دې جملې يو يې هېواد ته د واردېدونکو خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو د کيفيت کنټرول دی. د افغانستان اسلامي امارت په همدې موخه د هېواد په کچه په زونونو کې د لويو معياري لابراتوارونو جوړولو پروژې پيل کړې دي. څه موده وړاندې په هرات ولايت کې په همدې موخه جوړ شوی لابراتوار ګټې اخيستنې ته وسپارل شو او ټاکل شوې چې په راتلونکي کې به نورو ولايتونو کې دا ډول لابراتوارونه جوړ او هېوادوالو ته به خدمات وړاندې کړي. دا چې د هېواد په کچه په زونونو او په ځانګړې ډول سوداګريزو او صنعتي سيمو کې د دې لابراتوارونو فعاليت خورا مهم دی او د سوداګرۍ او صنعت پر پراختيا يې اغيزې څه دي، دلته ورته لنډه کتنه کوو.

## د زونونو په کچه معياري لابراتوارونه

څه موده وړاندې په هرات ولايت کې د عامې روغتيا وزارت له لوري جوړ شوی معياري لابراتوار ګټې اخيستنې ته وسپارل شو. د عامې روغتيا وزارت د معلوماتو له مخې، د دغه لابراتوار پر ساختمان شاوخوا ۱۳۰ ميليون او د ماشينونو پر نصب يې بيا ۲۰۰ ميليون افغانۍ لګښت راغلی دی. په دغه لابرتوار کې پرمختللي عصري ماشينري نصب شوې، چې د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو د کيفيت د ارزونې په برخه کې به په دوه شپېتونو يعنې ۲۴ ساعتونو کې هېوادوالو ته خدمات وړاندې کوي.

دغه لابراتوار په پنځه جريبه ځمکه د هرات ولايت په صنعتي پارک کې جوړ شوی دی. په ورته وخت کې په ننګرهار ولايت کې هم د زون په کچه د لوی لابراتوار د جوړېدو چارې روانې دي. د عامې روغتيا وزارت د معلوماتو له مخې، د دغه لابرتوار ساختماني چارې ۹۵ سلنه بشپړې شوې او په نږدې وخت به يې چارې تکميل او د ماشينرۍ د نصب کارونه به يې هم پيل شي.

## د سوداګرۍ او صنعت پر پياوړتيا د لابراتوارونو اغيزې

د صنعت او سوداګرۍ وزارت د معلوماتو له مخې، اوسمهال په افغانستان کې شاوخوا ۶۵۰۰ صنعتي فابريکې فعالې دي. دغه فابريکې بېلابېل توکي لکه درمل، خوراکي توکي، د ښباک توکي، ساختماني مواد او نور توليدوي. د صنعت وزارت د مسوولينو په خبره، د کورنيو توليداتو له جملې افغانستان د ۳۰۰ اقلامو په برخه کې بشپړې خودکفايي او د سلو اقلامو په برخه کې نيمه خودکفايي ته رسېدلی دی. دغه توکي ګاونډيو او د سيمې يوشمېر هېوادونو ته هم صادرېږي.

د کورنيو توليداتو د ودې، پراختيا او صادراتو د زياتوالي لپاره کيفيت لومړنی شرط دی. دغه لابراتوارونه به د خوراکي توکو، درملو او روغتيايي محصولاتو د کيفيت ارزونه کوي. په دې سره به هېواد ته د تقلبي، بې کيفيته او غير معياري توکو د واردېدو مخنيوي ته زمينه برابره شي. دغه لابراتوارونه به په ورته وخت کې د کورنيو محصولاتو او توليداتو کيفيت او اعتبار هم تضمينوي. دا به د دې باعث وګرځي چې په داخلي بازارونو کې هم







زموږ هېوادوال باکیفیته محصولاتو ته لاسرسی ولري. د کیفیت په تضمین سره به افغاني تولیدات نړیوال معیارونه پوره کړي او په دې سره به په نړیوالو بازارونو کې د سیالۍ وړ وګرځي او نوي بازارونه به پیدا کړي. د نویو بازارونو په پیدا کېدو سره به مستقیم ډول صادرات زیاتېږي او په دې سره بیا د کورني تولید حجم هم لوړیږي، چې په ورته وخت کې نوي کاري فرصتونه هم رامنځته کوي. په دې سره د هېواد په کچه سوداګري غوړیږي او اقتصاد وده کوي. د کورنیو تولیداتو د کیفیت د ارزونې او کنټرول د سیستم پیاوړتیا نه یوازې د مصرفوونکو باور زیاتوي؛ بلکې د پانګوالو لپاره هم یو باوري او معیاري تولیدي چاپېریال برابروي. په دې سره بیا نوې پانګونې ته لار هواریږي او صنعتي فابریکې پراختیا مومي. د محصولاتو او تولیداتو د کیفیت په کنټرول سره د کیفیت د لوړوالي سیالي رامنځته کېږي. کورني تولیدات د بهرنیو وارداتي توکو پر وړاندې سیالي کوي او په دې توګه، په تدریجي ډول د وارداتو د اړتیا کمېدو او د صادراتو د زیاتېدو زمینه برابرېږي.

## پایله

د هېواد په کچه په مهمو صنعتي او سوداګریزو زونونو کې د معیاري لابراتوارونو جوړېدل د خوراکي توکو، درملو او روغتیایي محصولاتو د کیفیت د کنټرول ترڅنګ، د هېواد په کچه د سوداګرۍ او صنعت د پراختیا لپاره هم یوه مهمه اړتیا ده. د دې لابراتوارونو له فعالیت سره به له یوه لوري د کورنیو تولیداتو معیار لوړ او محصولات به په نړیواله کچه اعتبار پیدا کړي او له بل لوري به هېواد ته د بې کیفیته او غیرمعیاري توکو د واردېدو مخنیوي ته زمینه هم برابره شي. د کیفیت په لوړوالي سره به د کورنیو تولیداتو ترمنځ سالمه سیالي رامنځته او د صادراتو د پراختیا لپاره به زمینه برابره شي. په دې سره به په هېواد کې د تولید کچه زیاته شي، د پانګونې د جذب لپاره به نوي زمینه مساعده شي، سوداګري به پراخه شي او د هېواد اقتصاد به ورسره وده وکړي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۶۴,۷۵؋ | ۶۴,۸۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانۍ کلدارې | ۲۲۵؋ | ۲۲۶؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۰,۳۲؋ | ۰,۳۳؋ |
| ۱ | اروپايي یورو | ۷۴,۰۰؋ | ۷۴,۱۰؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۷۷؋ | ۰,۷۷؋ |
| ۱۰۰۰ | هندۍ کلدارې | ۷۴۷؋ | ۷۴۸؋ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ۸۵,۴۰؋ | ۸۵,۸۰؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۷,۲۴؋ | ۱۷,۲۶؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۷,۶۳؋ | ۱۷,۶۴؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۶۳؋ | ۹,۶۴؋ |

